ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۳/۲۵

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
# دوهم ټوک
## (دروشتمه برخه)

## محمد سخي دانشجو

یو کابلی دئ. په ۱۹۵۷ز کال کې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. د باندنیو چارو په وزارت کې مقرر سو. له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۵ز کال پوري په واشنګټن ډي سي کې اتشه. د کلتوري اړیکو د دیپارتمنت غړی. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۷۰ز کال پوري په واشنګټن کې په افغان سفارت کې دوهم سکرتر. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۴ز کال پوري د کلتوري اړیکو د ریاست مرستیال رئیس. له ۱۹۷۵ تر ۱۹۸۰ز کال پوري په مسکو کې د افغان سفارت لومړی سکرتر. له ۱۹۸۰ تر ۱۹۸۲ز کال پوري د سیاسي چارو رئیس. په ۱۹۸۲ز کال کې د باندنیو چارو د وزارت مرستیال وزیر. په ۱۹۸۳ز کال کې د پروتوکول او اداري چارو مسؤول. په ۱۹۸۴ز کال کې د باندنیو چارو د وزارت سلاکار.

## نور احمد دانشجو

د غوایي له پاخون وروسته د کابل ښاروالی د دوهمي حوزې رئیس.

## عبدالعزیز دانشیار

د حامد خان زوی. په ۱۹۵۷ز کال کې ئې په هندوستان کې تحصیلات کړي دي؛ او له ۱۹۵۷ تر ۱۹۶۱ز کال پوري ئې عامه اداره د لبنان په اې. بي. یو . پوهنتون کې لوستي ده او ماستري ئې تر لاسه کړې ده. د اطلاعاتو او کلتور په وزرات کې د باختر خبري آژانس مرستیال رئیس. په ۱۹۸۲ز کال کې د کابل نیو ټایمز مسؤول مدیر.

## فتح محمد دقیق

د حاجي فقیر احمد زوی د کابل د باراني په ګذر کې په ۱۹۲۶ز کال کې زیږېدلی دئ. زده کړې ئې په کور کې کړي دي. عربي او انګلیسي ئې لوستي دي. د معارف ښوونکی. شاعر او لیکوال.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

## عبدالمنان دردمند

د ملا سید احمد زوی په ۱۹۱۶ز کال کي د پکتیا په «باجوړ» [1] کي زېږېدلی دئ. شخصي او خصوصي زده کړې ئـي کړې وې. د «الجهاد» [2] د پښتو دیپارتمنت غړی. په ۱۹۴۱ز کال کي کابل ته راغی خو د پښتو اکاډیمی له پلوه هرات ته واستول سو چي هلته رسمي مأمورینو ته پښتو تدریس کړي. په ۱۹۴۳ز کال کي په هرات کي د اتفاقِ اسلام مرستیال محرر. په ۱۹۴۷ز کال کي په فراه کي د سیستان د ورځپاني محرر. په ۱۹۵۱ز کال کي په پکتیا کي د «وړانگې» مدیر. په ۱۹۵۳ز کال کي په کابل کي په پښتو اکاډیمی کي د پښتو دیپارتمنت مدیر. په کابل کي د کابل مجلي مدیر. په ۱۹۵۳ز کال کي د کابل ښاروالی د پامیر د خپروني مدیر. په ۱۹۵۸ز کال کي په کابل راډیو کي د خبرنو د مدیریت غړی. په ۱۹۵۹ز کال کي په کابل کي د هېـواد د ورځپاني مرستیال مدیر. په ۱۹۵۹ز کال کي په هرات کي د اتفاقِ اسلام مسؤول مدیر. په ۱۹۶۱ز کال کي په کابل راډیو کي د پښتو پروگرامونو مدیر. په ۱۹۶۳ز کال کي د سرحداتو او قبائیلي چارو د ریاست د تبلیغاتو مدیر.

## ډاکټر آدم درمل

په فراه کي زېږېدلی دئ. له حربي ښوونځي فارغ او د کابل پوهنتون د طب په پوهنځي کي شامل سوی دئ. په تورکیې کي ئـي د فوق لیسانس تر کچې روزنه لیدلې ده. د کابل په پوځي روغتون کي د طب د ډگر فعال کارکوونکی. له ۱۹۸۰ز کال وروسته د جنرال رتبې ته ئـي ارتقاء وکړه. په ۱۹۸۴ز کال کي په کابل کي وفات سو.

## ډاکټر عبدالمحمد درمانگر

د طب ډاکټر. یو خلقی دئ چي د ۱۹۷۸ز کال د مې په میاشت کي د روغتیا د وزارت دوهم مرستیال وزیر سو. د ۱۹۷۹ز کال د آگست د میاشتي په ۵ نېټي د باندنیو چارو د وزارت د اداري چارو مرستیال وزیر. د ۱۹۸۰ز کال د جنورئ په میاشت کي زنداني سو.

## آخوند، ملا بابا دشتي

د شاه مردان زوی په ۱۸۹۵ز کال کي په سمنگان کي زېږېدلی دئ. پارسي او عربي ئـي لوستي دي. افغان شاعر.

## غلام نقشبند دشتي

[1] -Bajawar, Paktia

[2] - Al-Jihad



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

په هرات کې په يوې پښتنې کورنۍ زېږېدلی دئ. د هرات د ښوونځې ښوونکی او وروسته د همدغهٔ ښوونځې مدير. د هرات، کندهار او بلخ په ګډون په نورو ښـلابـيلو ولايتونو کې د معارف مدير. د پوليتخنيک د انستيتيوت مرستيال رئيس. د کابل مستوفي (مالي سرمحاسب). له ۱۹۷۶ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د پروان والي. له ۱۹۷۶ تر ۱۹۷۸ (؟) ز کال پورې د کورنيو چارو مرستيال وزير. ويل کېږي چې د ۱۹۷۸ز کال د اپريل د مياشتې له ۱۷ نېټې وروسته اعدام سوی دئ.

## ډاکټر غلام محمد دستګير

د صوفي غلام دستګير زوی (غلام دستګير : د ميرزا شيرعلي خان زوی، د ميرزا خدا داد لمسي) او د مور له خوا د «پير اکرم خان» له اعقابو څخه. له دوديزو لومړنيو زده کړو وروسته په ۱۹۵۶ز کال کې د حبيبيې له ليسې څخه اول نمره فارغ او د فراغت د وينا وياړ ورکړل سو. په ۱۹۶۳ز کال کې د کابل پوهنتون د طب له پوهنځي فارغ او په ۱۹۶۴ز کال کې د ستاژ دورې ته داخل سو. په ۱۹۶۵ز کال کې د عسکري مکلفيت دورې ته لاړ؛ ورپسې د ننګرهار د طب پوهنځي د جراحې ډيپارټمنټ غړی سو. په ۱۹۶۸ز کال کې د يوهٔ سکالرشيپ په ترڅ کې لندن ته لاړ او په «رويل کالج آف سرجنز» [3] او «يونيورسټي کالج آف لندن ميډيکل سکول» [4] ته لاړ او په ۱۹۷۴ او ۱۹۷۸ز کلونو کې ئې ډيپلوما ګاني تر لاسه کړلې. په ۱۹۷۸ز کال کې د کابل پوهنتون د طب د پوهنځي د جراحي د څانګې مدرس. (په اکاډيمي علوم طب) [5] پوځي روغتون کې مېلمه جراح. د ۱۹۷۹ز کال د اکتوبر په مياشت کې له افغانستانه ووت. د ۱۹۸۰ز کال په اپريل کې د امريکا متحده ايالاتو ته کډه سو او د ماساچوسټ د پوهنتون د «نارث همپ ټن» [6] د دولتي روغتون د سايکايټري په ډيپارټمنټ کې د مدرس په توګه مقرر سو. په ۱۹۸۳ز کال مرستيال ډاکټر او په ۱۹۸۴ز کال کې د «سوماتيک خدماتو» [7] مشر. د امريکايي طبي ټولنو غړی / اميريکن ميډيل اسو سي ايشنز فيلو [8]، او د تخصصي کتابونو او مقالاتو مؤلف. له مېرمن نسرين صادقه سعيد سره ئې واده کړی دئ او څلور بچيان لري : نظيفه، احمد وليد، عفيفه او احمد خالد.

## ډاکټر غلام حيدر داوَر

د غلام حسين زوی، د ۱۹۲۸ز کال د مارچ د مياشتې په شپږمې نېټې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۷ز کال کې د نجات له ليسې فارغ سو او په ۱۹۵۱ز کال کې د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو له پوهنځي څخه فارغ سو. له ۱۹۵۷ تر ۱۹۶۱ز کال پورې د جرمني د «کولن» او «بُن» [9] په پوهنتونو کې ئې تحصيلات وکړل او په ۱۹۷۰ز کال

---

[3] -Royal College of Surgeons
[4] -University College of London Medical School
[5] Academi-ye-Ulumi-ye-Tibb
[6] -Department of Psychiatry, University of Massachusetts, Northampton State Hospital
[7] -Somatic Services
[8] - Fellow of American Medical Associations
[9] - Cologne and Bonne


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کي ئـي خپله دکتورا په اقتصاد کي د بن له پوهنتون څخه ترلاسه کړله. له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۸ز کال پورې د ماليي د وزارت سلاکار. له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۸ز کال پورې د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو مدرس. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۵ز کال پورې د کابل د هوايي ډګر د ګمرکاتو مدير. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د کابل د ګمرکاتو رئـيس. په ۱۹۶۸ز کال کي د ماليي په وزارت کي د ګمرکاتو د رياست عمومي رئـيس. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د ماليي وزير. په ۱۹۷۴ز کال کي جرمني ته لاړ او د بن په پوهنتون کي د اقتصاد پوهاند/ پروفيسر سو.

## نور بيا

## عبدالهادي داوي پريشان

کاکړ. په ۱۸۹۴ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. د کندهار د...

قدرمنو لوستونکو! د بناعلي رحمت آريا د آرشيف: لينک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ